# په وسلوالو غېر قانوني یا شبه نظا مي ډلو کې دکانديدانو غړيتوب یا د قوما ندې اومشرۍ څېړنو دمؤظف کمېسيون کړنلار

**بنسټ**

دغه کړنلار دټاکنو دقانون د(۶۶ ) مادې دورکړل شويو وا کونو په پام کې نيولو سره د ټاکنو دخپلواک کمېسيون له خوا دټاکنو دقا نون د (۱۲ ) مادې، ( ۷) بند د حکم د پلي کولو لپاره، د وسلوالو ډلو د قوماندې او يا په وسلوالو غېر قانوني يا شبه نظامي ډلو کې د کا نديدانو غړيتوب د څېړنې   د مؤظف کميسيون د جوړونې په موخه تصويب شوې ده .

**عملي ساحه :**

**لومړۍ ماده :**

دغه کړنلارد قوماندې اومشرۍ څېړلو يا په وسلوالو غېر قانوني يا شبه نظامي ډلو کې دکانديدانو غړيتوب اړوندې چارې په وروستيو ټاکنو کې تنظيموي:

١ ـ دجمهوري رياست ټاکنې .

٢ ـ د ولسي جرګې ټا کنې .

٣ـ دولايتي شوراګانو ټاکنې.

۴ ـ د ولسی شورا ګانو ټا کنې.

۵ـ د کليود شوراګانوټاکنې

۶ـ د ښاروالا نو ټاکنې

٧ـ دښا والی د غونډو ټا کنې

**د کميټې جوړول**

**دويمه ماده :**

نومورۍ کمېسيون د ټاکنو دقا نون د (۱۲ )مادې ، ( ۷) بند په پام کې نيولو سره جوړ او لږ.تر لږ.ه ( ۱۵ ) ورځې مخکې د کانديدانو دنوم ثبتونې د بهير له شروع څخه په کار پيل کوي .

**د کميټې ترکيب**

**دريمه ماده:**

١ ـ دا کميته له يوه رييس او درې غړيو څخه په وروستي ډول جوړه شوې ده :

الف . دټا کنودخپلواک کمېسيون استا زی ـ د رئيس په توګه

ب . دملي دفاع وزارت واکمن استازی ـ د غړي په توګه

ج . دکورنيو چارو وزرات واکمن استازی ـ  دغړي به توګه

د . دملي امنيت دعمومي رياست واکمن استازی ـ د غړي په توګه

٢ ـ کميټه دکاري چارو دښه پر مخ بيو لو په موخه ، دخپل ضرورت وړ محدوداجرا ييوي کار کوونکي دا ړتيا په صورت کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ددارا لا نشأ له لارې موقتاً استخداموي

٣ ـ دکميټې مقعر د ټاګنو خپلواک کمېسيون په مرکزي دفتر کې دی.

**د کړنلارې وضع کول**

**څلورمه ماده :**

کمېسيون کولای شي چې دخپل واک په بريد کې د ټاکنو دقانون د احکا مو په سمه توګه د پلي کولو په موخه داخلي کړنلارې رامنځته کړي او دټاکنودخپلواک کمېسيون پواسطه يې تصويب کړي.

**دکمېسيون مسؤوليت او واکونه**

**پنځمه ماده :**

۱ ـ کميټه مسؤوليت لري چي په وسلوالو غېر قانوني يا شبه نظا مي ډلو کي دکانديدانو غړيتوب يا مشري داړوندو ارګانونو سره د قوماندانانو او دوسلوالوغېر قانوني يا شبه نظامي ډلو دغړيتوب دسوابقو اومدارکو د شتوالي په پام کي نيولوسره ، دکانديدانو دنوم ليکني د بهير له پيله بيا دکانديدانود بشپړ لسټ تر خپرېدو پوري وڅېړي او ويې پېژني.

۲:په هغه صورت کي چي د قوماندي اومشری يا په وسلوالو غېرقانوني اويا شبه نظامي ډلوکي دکانديد د غړيتوب په اړه بشپړمصدق اسناد اوشواهدو شتون ولري،نو مو ضوع به دوروستي تصميم نيوني په موخه د ټاکنيزوشکايتونو کمېسيون ته وسپاري.

۳ .کمېسيون به له خپلو کړنوڅخه د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته رسماً خبر ورکړي.

**اعتراضونه**

**شپږمه ماده :**

۱ ـ داعتراضونوددوری په بهيرکي، د کانديدانودابتدايي لسټ داعلان اوخپرولو وروسته د رأ يي ورکوني دشرايطو وړ اتباع ، کانديدان او څارونکي دهغه شخص په اړه چي غواړي په ټاکنو کي دکانديد په توکه ګډون وکړي ، هر يو کولای شي چي د شرايطودوړتيا په اړوند يي اعتراض وکړي .

۲ ـ اعتراض کوونکی کولای شي چي ، دټا کنيزو شکايتونو کمېسيون ته رسماً خپل اعتراض داثبا تيه مدارکواو اسنادو سره وړاندې کړي.

۳ – د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون ، په وسلوالو غېر قانوني يا شبه نظامي ډلو کي د کانديد غړيتوب يا قوماندې اومشری په اړه لاسته راغلي اعتراضونه رسماً او جنساً دڅېړني او ارزوني په موخه کمېسيون ته واستوي .

۴ ـ کمېسون په وسلوالو غيرقانوني يا شبه نظامي ډلو کي د کانديد غړيتوب يا قوماندې اومشری په اړه تر لاسه شوي اعتراضونه داسنادو او مدارکوپه پام کي نيولو سره تر څېړني او ارزوني لاندې نيسي اوموضوع د تصميم نيوني په موخه دټا کنيزو شکايتونو کمېسيون ته لېږي .

**د کمېسيون د کار د دوری پای**

**اوومه ماده:**

د نوموړې کميسيون د کار دوره دکانديدانودوروستي لسټ داعلان اوخپرولو وروسته پای ته رسيږي .

**انفاذ**

**اتمه ماده:**

دغه کړنلار د تصويب له نېټي څخه نافذه او خپريږي.